مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۱/۱۹

# سـر نــه تـر پښو پـورې يې غم اغوستی

ستا په محل کې خوشالی ق.تل شه
زما پرېښتـو نه زنده ګي پاتي ده

خـدايـه! نو ته به پکې څه پاتي شي!؟
د چا چي زړه کې غلامـي پاتي ده

د اشـرفـيت د مخلوقـاتـو؛ ربـه!
يـوه سلګـی ده آخـري پـاتــي ده

جنګه! ثـواب خو درکي څـرک نه ښکاري
تـا کــي خو تشــه بـربـادي پـاتــي ده!

چېرته دوزخ کې چا ليدلي حوره!؟
دا په فـتـوئ د کوم مفتي پاتي ده!؟

سـر نــه تـر پښو پـورې يې غم اغوستی
بـاور نــه نـوره خـوشـالـي پاتي ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولـئ